# دویمه نظریه:        پښتویوه اریایي ژبه ده

- د پښتوژبې په حقله دویمه نظریه دا ده چې پښتویوه اریایي ژبه ده. دا رنګه د دې ژبې د ویونکو په حقله دا دعوه کیږي چې دا خلګ ارین دي.
- د پښتوژبې په اړه دا نظریه هغه وخت مخته راغله چې کله فرنګیان نیمې وچې (subcontinent) ته راغلل.
- نو د دوی پوهانو د نیمي وچې په ژبو کښې ژوره دلچسپي واخسته او څیړني یې پکښې وکړلې.
- د خارجیانو دې ډله ته مستشرقین (Orientalists) او د دوی علمي پلټنو ته ختیځ پوهنه (Orientalism) وائي.
- د دې مستشرقینو کار زیاتره پر ژبني اصولو باندي وو، او د ژبولساني تجزیې وړاندي کړې.

# پښتو يوه اريايي ژبه ده

- د پښتو ژبې د ژبني څېړنو وروسته يې دا دعوه وکړه چې دا ژبه د اريا نسل د ژبو سره اړيکې لري.
- په دغو پوهانو کې يوه ډله هغه خلګ وو، چې دوی د اريايي مدنيت د پلټنې لپاره زيارونه وکښل. د هند اريايي ژبې يې زده کړې.
- په دې کښې ځينې پوهان داسې هم وو چې دوی پښتو ژبه زده کړه او ډېر علمي څېړنې او تحقيقات يې په دغه ژبه کښې وکړل.
- د پښتو قواعد او ګرامر يې وليکل، او محاورات يې وکښل، بدلې او اشعار يې را ټول کړل، زاړه کتابونه او اثار يې وموندل.

# پښتو یوه اریایي ژبه ده

دلته د دوی د څیړنو لنډ معلومات وړاندې کوو.

- د موسیو برتلز روسي ختیځ پوهاند په قول: په اروپا کې لومړی پلا ګولډن شټ الماني پر پښتو یو کتاب ولیکلئ او ځیني لغات یې پکې راټول کړل.
- دا کتاب په ۱۷۹۱ کښې په سینټ پیټرزبرګ کې طبع او خپور شو.

پروفیسر کلیپورټ لیکي (Prof. Kleporth)

- پښتو ژبه که څه هم بعضو پوهانو له سیمټکي / سامي ژبو څخه ګڼلې ده، مګر زه وایم چې دا ژبه سوچه له انډو-ژرمانیک (Indo-Germanic) (هندوارین) ژبو څخه ده، ځکه نه په الفاظو او لغاتو او نه په قواعدو او ګرامر کې له سامي ژبو سره څه اړه لري.

# پښتو يوه اريايي ژبه ده

- مسټر الفنسټن وائي: (Mr. Elphinstone)
- ما په ۲۱۸ پښتو کلماتو کې پلټنه وکړه، ومې کتلې، يوې هم له سامي ژبې سره کوم لږ مشابهت نه درلود: خو په دغو الفاظو کې په سلو کې پنځه (۵) تر لسو هسې کلمات وو، چې له کردي ژبې سره يې نيزديوالی لرلی، ځکه چې کردي ژبه هم له هندو-ژرمن ژبو څخه ده.

- هانري والټر بيلو (Henry Walter Below)
- هانري والتر بيلو د ۱۸۶۷ په شاوخوا کې د بنګال عسکري منصبدار وو، د پښتو په حقله ليکي:
- له ټولو څيلو پلټنو څخه په لنډه ډول دا نتيجه اخلم چې پښتو اصلا د سنسکريت يوه خور ده، او ځکه چې د هند او ايران تر مينځ ويله کيږي.

# پښتو يوه اريايي ژبه ده

- جېمز ډار ميستېټېر (James Darmsterter)
- بل اروپايي لوی عالم او پښتو پوهاند جېمز ډار ميستېټېر د فرانس وو چي د پښتو ملي سندري (Chants Papulaircs des Afghan) په نامه يې يو کتاب په ۱۸۸۸ کښې نشر کړئ. دی د پښتو په حقله داسي نظريه لري:
- پښتو له هندي لهجو څخه نه ده او نه له پارسو او پهلوي څخه پيدا شوي ده، بلکې دا ژبه د زند (اوستا) يا د يوی بلې ژبې سره چي زند ته ورته وي، ډېر مشابهت لري. ده دا خبره په ۱۸۸۸ کښې دا خبره زبات ته ورسوله چي پښتو له اوستا سره همکورنی ده او د اوستا هماغې لرغونې برخې ګاثا – ګاتا ووته رسيږي.
- ډار ميستېټېر څرګنده کړه، څنګه چي پښتو ويونکې د هندي ژبو په ګاونډ کې اوسيدلي دي، څه د پراکريټ په منځني پړاو او څه د وسمهالو هندي ژبو په پړاو کې، نو د غو ژبو يو لړ اغيزې يې راخپلې کړي دي، خو واقعيت هماغه دی چي پښتو د اوستا همکورنی ده.

# پښتو يوه اريايي ژبه ده

- ويلهيلم ګايګر
- دا تر ميستېټر را وروسته دويم ارين او پښتو پوهاند دی، چي د پښتو د اريانيوالي او بيا شمال ختيزوالي پخلی کوي.

- پروفيسر ميولر (Prof. Muler)
- لومړی سړی دی چي په ۱۸۶۲ يې په خپل کتاب (Veber Dies Pracheoer Afghanen) کې دا رايه ښکاره کړه چي:
- پښتو د اريايي ژبو په شرقي ډله پوري اړه لري.

# پښتو يوه اريايي ژبه ده

- ډاکټر ټرومپ
- په خپل پښتو ګرائمر (چې په ۱۸۷۳ کښې ليکل شوی دی) په قوي دول داسې ذکر کوي چې پښتو عربي (ايراني) ژبه نه ده، بلکې په شرقي اريايي ژبو کې داخله ده.
- ټرومپ په اروپايي ژبپوهانو کښې په دې حقله مقام لري چې دوی په رووښې حل دا سوال پورته کړئ چې پښتو د انډو-يورپين (Indo-Aryan) ژبو له هندي يا ايراني (Zend family) له کوم ښاخ سره تعلق لري.

# پښتو يوه اريايي ژبه ده

- لنډه دا چي، دغه نظريه چي پښتو يوه اريايي ژبه ده، د لومړي ځل لپاره په ۱۸۲۸ کال کې کليپورټ او له هغې ځخه وروسه الفنسټن مينځته راوړه، چي پښتو يوه اريايي ژبه ده.
- و دغې نظريې ته بيا دورن او د هغه پس ميولر پراختيا وکړه.